د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د وخت ارزښت

دویم ټولګی، دویم سمستر، دویمه سویه



د لوستلو لپاره آزمایښتي مرستندوی کتاب

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د وخت ارزښت

## د دويم ټولګي د ښوونځي زده کوونکو لپاره

پښتو
مرکز، ننګرهار، افغانستان

د لوست دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان به ولولي» پروژې په تخنيکي مرسته تأليف شوی دی

لیکوال: احسان الله سباوون

اېډيټور: تکامل شمس

انځورګره : بهشته محسني

د تصحیح کمېټه

---

اسلامي: شهیدالله عزیزي

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: محمد سهراب دیدار

بسم الله الرحمن الرحیم




هیلې اورېدلي وو چې:

«وخت سره زر دی.»

خو نه پوهېده چې څه معنا.

مور یې پوښتنه وکړه:
لورې! ولې حیرانه یې؟
هیلې وویل:
حیرانه یم چې وخت څنګه سره زر دی.
مور یې وویل:
سره زر قیمتي دي.
انسان د قیمتي شیانو قدر کوي.



انسان باید د وخت قدر وکړي.

په وخت ښوونځي ته لاړ شي.

په وخت درسونه ووايي.

په وخت لوبې وکړي.

په وخت کار وکړي.

په وخت خوب وکړي.

په وخت ډوډۍ وخوري.



وخت د واورې مثال لري.

واوره ویلې کیږي.

وخت هم تیریږي.

وخت تېرېږي.
خو باید ور نه ګټه واخلو.
باید هر کار په خپل وخت
وکړو.




نو هره شپه فکر وکړه چې:

په ورځ کې دې څه کړي دي؟

کارونه دې په وخت کړي دي؟

هیلې وویل:
مننه، مورې!
اوس پوه شوم.
وخت سره زر دی.
د سرو زرو غوندې قیمتي دی.
باید د وخت قدر وکړو.
باید هر کار په خپل وخت
وکړو.

درسي كتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
كلكه منع دي. له سرغړوونكو سره به قانوني چلند وشي.